PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اوونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي ځرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمېر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابن عمر رضی الله عنهما روایت است که: برای گروهی از اصحاب پیامبر صلی الله علیه وسلم در خواب، لیلة القدر در هفت شب آخر نشان داده شد. آنگاه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: من مشاهده می کنم که خواب شما در هفت شب آخر اتفاق افتاده، پس آنکه جوینده‌ء آن باشد، بایست آن را در هفت شب آخر جستجو کند. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۰ مه ګڼه، پرله پسې ۲۱۹ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د زمری ۱۶ مه د۱۴۳۴ هـ ق د رمضان المبارک ۲۹ مه د۲۰۱۳ م د اګست ۷ مه

پیام تبریکیهء حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید فطر

حزب اسلامی افغانستان حلول عید سعید فطر را برای کافهٔ ملت مؤمن و مسلمان افغانستان تبریک عرض نموده و آرزو دارد که هموطنان عزیز ما با کسب فیض از برکات ماه پُر نور رمضان ایام خجسته عید را در فضای صلح و آرامی و برادری سپری نمایند. و از خداوند منان خواهانیم که صلح، ثبات، امنیت و ترقی را در وطن رنج کشیده ما حاکم سازد، تا ما بتوانیم با همدلی، اخوت، وحدت و یکپارچگی بر تمام نارسایی های جامعه خویش فایق آییم.

طالبانو سره په دوبۍ کې پټې خبرې افشاء شوې

داسې ویل کېږي چې د سولې د عالي شورى د غړو او طالبانو ترمنځ په سعودي کې هم خبرې شوې خو ملا محمدعمر له خپلو ونډوالو غوښتي دي چې دغه خبرې باید علني نه شي

د دوبۍ په غونډه کې د طالبانو استازو د سولې د عالي شورا د مشر په توګه د صلاح الدین رباني له نامه سره مخالف وو. طالبان وايي صلاح الدین د خپل پلار له امله چې د طالبانو مخالف و، دوی ته د منلو وړ نه دی.

طالبان به دې غونډه کې له خپنو غوښتنو تېر شوي، دوی وايي جمتو یو چې د اساسي قانون پر سر خبرې وشي او یوازې له درې مادو سره یې مخالفت لرو

امریکا، رسنۍ:
د طالبانو یوه استازي اسوشیټډ پریس اژانس ته په دوبۍ کې د سولې د پټو خبرو موضوعات افشاء کړي دي.
دغه استازي ویلي دي چې دوی د افغانستان د اساسي قانون په اړه، د ښځو د حقونو په باب او د یوه موقت حکومت د جوړېدو په ارتباط خبرې کړې دي، همدارز یې په انتخاباتو کې د طالبانو د برخې اخیستنې مساله څېړلې ده.
د افغانستان د سولې دعالي شورا هم دا خبره تایید کړه، ...

پاتې ۳ مخ

امضای تفاهمنامه با ایران تنش کابل و واشنگتن را بیشتر میکند

کابل، پژواک:
برخی کارشناسان سیاسی می گویند که ایران با امضای تفاهمنامهٔ استراتیژیک با افغانستان، در صدد اهداف پنهان در افغانستان و دنبال کردن دشمنی با امریکا است و می تواند تنش در روابط کابل-واشنگتن را بیشتر سازد.
برخی هم، امضای این تفاهمنامه را به سود افغانستان می دانند؛ اما در عین حال می گویند که عملی ساختن این تفاهمنامه در حضور نیروهای بین المللی و آمریکا برای حکومت افغانستان، دشوار خواهد بود.
این تفاهمنامه، روز گذشته از سوی مشاور امنیت ملی افغانستان و منشی امنیت ملی ایران، در تهران امضا شد.
وزارت خارجه افغانستان می گوید که این تفاهمنامه، شامل همکاری نیروهای امنیتی دو کشور در امر مبارزه با قاچاق موادمخدر، تشریک معلومات استخباراتی برای مبارزه با تروریزم به هدف حفظ امنیت ملی، توسعه همکاری های اقتصادی و ترانزیتی، ...

پاتې ۴ مخ

آرمان رسیدن به قدرت سیاسی

صفحه دوم

امریکا په لنډ مهاله توګه په ځینو هېوادو کې خپل سفارتونه تړلي

کابل، رسنۍ؛
لویدیځي خبرې رسنۍ وايي، متحد ایالاتو خپل سفارتونه څکه په یو شمېر هېوادونو کې وتړل چې؛ استخباراتي ادارو د هغه پیغامونو ته لاسه کړي وو چې؛ د القاعده شبکې مشر ایمن الظواهري په یمن کې خپل مرستیال ته لیږلي وو.
په دې پیغامونو کې د لویو بریدونو د پلان په اړه ویل شوي وو چې؛ متحد ایالاتو د

پاتې ۴ مخ

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د جلال اباد ښار خونړۍ چاودنه وغندله

واشنګټن، رسنۍ :
د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په جلال اباد ښار کې هغه چاودنه وغندله، چې له امله یې داتو ماشومانو په ګډون ۹ عام وګړي ووژل شول.
دغه چاودنه او برید د جلال اباد ښار په هغه سړک شوی و، ...

پاتې ۴ مخ

پنتاگون ۷۷۲ میلیون دالر را در خریداری هلی کوپترها و لوازم هوایی نیروهای افغان ضایع کرده

نیویارک، رسانه ها:
رییس اداره نظارت بر برنامه بازسازي افغانستان هشدار داد که بررسي هاي اخیر نشان مي دهد پنتاگون ۷۷۲ میلیون دالر هلی کوپتر ها و پارزه جات آنرا خریداري کرده که نظامیان افغان قادر به استفاده یا نگهداري از آنها نیستند.
این مقام مسوول اظهار داشت در گزارش ماه جون به تفصیل گفته بودیم که افغانستان چه به لحاظ پرسونل چه به لحاظ متخصص فاقد ظرفیت لازم براي استفاده و نگهداري از وسایل هوایي موجود است و با اضافه شدن هلی کوپتر ها و طیارات خریداري شده اخیر نگراني هاي ما افزایش یافته است.
بنا به این گزارش بخش قابل توجهي از بودجه تصویبي کانگریس یعني ۵۵۴ میلیون دالر آن به خرید ۳۰ فروند هلی کوپتر ام۱۷ ازروسیه اختصاص پیداکرده که کانگریس در تلاش است تا بودجه این قراردادها راقطع کند.

بقیه در صفحه ۴

هند له افغانستان سره سل میلونه ډالر مرسته کوي

کابل، رسانه ها:
د هندوستان دولت اعلان وکړ چې له افغانستان سره به د پراختیايي پروژو د عملي کولو لپاره په راتلونکو څلورو کلونو کې سل میلونه ډالره مرسته وکړي.
په کابل کې د دغه هېواد سفیر امر سینها د دوشنبې په ورځ وویل چې له دغې مرستې څخه موخه په افغانستان کې بیارغونه وشي او په اقتصادي حالت کې ښه والی راشي.
د افغانستان د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال وایي چې له مرسته شویو پیسو څخه به یې ۱۴.۳ میلونه ډالره د ترون له لاسلیکولو سره سم افغان حکومت ته وسپارل شي او پاته نوري به هم د څلورو کلونو په موده کې د هندوستان له خوا افغان لوري ته وسپارل شي.
نوموړې زیاته کړه چې پدغه پیسو به د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ۱۵ تعلیمي، ۱۶ روغتیایي، ۲۱ د کلیو پراختیا، ۶ کرنیزې او دوې هم د کار او ټولنیزې پرمختیا پروژې عملي شي.

بقیه در صفحه ۴

لوی درستیزان روسیه و پاکستان روی مسایل افغانستان بحث کردند

ماسکو و اسلام آباد به این باور اند که باقی ماندن نیروهای خارجی در افغانستان پس از ۲۰۱٤ میلادی می تواند باعث خانه جنگی در افغانستان شده و بالای اوضاع منطقه نیز تاثیرات منفی از خود بجا گذارد.

کابل، رسانه ها:
لوی درستیز اردوی پاکستان با همتای روسی اش در اسلام آباد ملاقات کرده و روی مسایل منطقوی به خصوص روی وضعیت افغانستان بحث و گفتگو نموده است. اداره عامه اردوی پاکستان با نشر خبر نامه از دیدار جنرال کیانی لوی درستیز اردوی این کشور با ولادیمیر وی چیر کین لوی درستیز روسی خبر داد.

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اختر مو مبارک شه!

راځئ پخپل ژوند کې د سولې دائمي اختر د راوستلو ژمنه وکړو

ډېر د شکر ځای دی چې یو ځل بیا د روژې الهي حکم له ترسره کولو وروسته د وړوکی اختر خوشالیانې لمانځو. راځئ په دې ورځو کې د اختر واقعي خوشالیانې وویشو، د خپل هېواد په کوټ کوټ کې د خوښۍ گلونه وکرو، دغه درې ورځې خوښۍ د ټول عمر په خوښیو بدل کړو، هغه داسې چې د یو بل په خلاف له خپلو غلطو دریځونو نه لاس واخلو، پخپلو زړونو کې شته حسد او کینه پرېږدو، د یو بل پسې اوچته شوې وسله له خپلو اوږو کوزه او پخپلو کې د مینې او ورورۍ مضبوط لاسونه ورکړو، یو بل ته د اتفاق او یووالي پیغامونه واستوو، پخپلو کې د وحدت او پیرزوینې گلونه ډالۍ کړو، د یو بل روا حقوق وپېژنو. د یو بل د ځان، مال، آبرو او عفت خیال وساتو، د هر چا د ژوند په قدر او قیمت پوه شو، د هر قوم، د هر رنگ، د هرې ژبې او د هرې سیمې وگړي د خپلو ځانو په څېر محترم وگڼو، یو بل ته په درنښت قایل شو، پخپلو کې د پیرزوینې. همدردي او ایثار روحیه پیاوړې کړو، ټول په یو منظم فولادي صف کې ودرېږو، د الله تعالی پر دین کلکې منگولې ولگوو او له هر ډول اختلافونو څخه په کلکه پرهیز وکړو. د یو بل د کمزورې کولو او حذفولو پرځای د یو بل متې مضبوطې کړو، خپل پاشلي قوتونه منظم او منسجم کړو، د اسلام او خاورې د دښمنانو په خلاف یو دریځ او یو شعار خپل کړو، په هېواد کې د اسلام د سپیڅلې نظام د پیاوړتیا او بشپړ نفاذ لپاره په گډه هلې ځلې وکړو، د قانون برلاسې او احترام یې پخپل ځان لازم وگرځوو، د اختر په ورځو کې چې یو بل ته مبارکي ورکوو دا هله تحقق مومي چې موږ تشه د خولې د مبارکۍ پرځای د عملي مبارکۍ د تحقق لپاره د زړه له تل نه گامونه واخلو، د مبارکي او برکت هغه گلونه وکرو چې الله تعالی او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم د برکت د مهمو ټوکو په توگه موږ ته په گوته کړي دي. چې هغه د الله پر سپیڅلي دین بشپړ منگولې لگول او پر هغه عمل کول دي.

زموږ په ژوند کې ډېر اخترونه تېر شول او ډیرې مبارکیانې مو یو بل ته ورکړې خو د اختر هغه خوښۍ مو په برخه نه شوی چې موږ ورته بنیادي ضرورت لرو. په کال کې څو ورځې اختر، هغه هم په غمونو او اندیښنو کې ډوبې زموږ د یو درد دوا هم نشي کیدلې. موږ د سولې او امن اختر ته ضرورت لرو چې دهغه په خوشالوونکو سیوریو کې آرام ژوند وکړو، داسې ژوند چې د انسان وژنې لړۍ ختمه شي، د بمونو او باروتو لوخړې پای ته ورسېږي د غمونو، ویرونو او زگیرویو دردوونکی غږونه ورک شي، د تعصبونو او حسدونو جرړې وویستلې شي.

که واقعاً موږ روژې د خدای د رضا د ترلاسه کولو لپاره نیولې وي او نیت مو د تقوی ترلاسه کول وي بیا نو د روژې میاشتې یواځنې پیغام دا دی چې موږ ټول د تقوی لاره خپله کړو، له خپلو تېرو گناهونو څخه توبه وباسو، ټول په ډېره مینه یو بل ته د اتفاق او ورورۍ گرمه غېږه ورکړو، د یو بل خیر وغواړو او د یو بل متې جوړ شو او په دې توگه پخپل ژوند کې حقیقي اختر راولو.

تورن غلام سخی

آرمان رسیدن به قدرت سیاسی

از مدت یکسال و اندی بدینسو که آرام، آرام دوران ریاست جمهوری حامد کرزی به طرف آخرین روزهای زمام داری ذاریش نزدیک می شود، فضای گیر و دار و بازار رقبای سیاسی بخاطر انتقال قدرت آنقدر گرم گردیده که هر گروه هر حزب حتی اقوام مختلف بفکر احراز کرسی ریاست جمهوری افتادند. تلاش ها در سراسر کشور و خارج از کشور جریان دارد تا بتوانند با استفاده از رأی مردم وارد میدان رقابت های انتخاباتی شوند، هر جریانی سنگ وفاداری بوطن و خدمت به مردم را به سینه میکوبد، همگی داد از عدالت میزند، از رسانه ها فریاد حاکمیت قانون را بلند میکنند، صداهای مهیب از عقب تریبون ها بالا می شود و از حقوق زنان و حقوق بشر رسانه ها و آزادی های مدنی حمایت می نمایند، هر روز که میگذرد گروه ها، و احزاب،محافل و مجالسی را برای تعیین خط و مش و انتخاب زعیم آینده کشور ترتیب مینمایند، بحث های گستردهٔ بخاطر انتخابات شفاف و عادلانه و سراسری از حلقوم فرهنگیان، تحلیل گران و سیاسیون بیرون می شود، هر جریان و گروهی از اهداف و مرام خود نسبت به آینده سخن میزند، هوتل ها و تالارهای بزرگ بخاطر اعلان مواقف احزاب، گروه ها و اقوام ریزرف می شود. و با اشعار انتخاباتی، آرم و بیرق ها مزین میگردد.

صحبت ها پیرامون آینده کشور، انتخابات و اعاده صلح و ثبات در افغانستان صورت میگیرد، طرح های مختلفی از هر سمت و سو برای حل معضلات جاری در کشور ارایه میگردد، گروه راه حل بحران سیاسی را تشکیل یک حکومت موقت قلمداد میکنند و گروه انتخابات شفاف و عادلانه را راه حل معقول قضیه میدانند، و جهت های دیگری بر تداوم حکومت فعلی تکیه میکنند، گاهی آنقدر هوای اقتدار گرم می شود، که متصدیان امور نمیخواهند از مسند قدرت بجنبد، همه در تنگنای تفکر فرو رفته اند. احزاب مختلف که از نظر اعتقادی دیروز با هم در سنگر عداوت و تقابل قرار داشتند، امروز همه چیز را کنار زده با هم کنار آمده و وارد میدان کارزار انتخاباتی می شوند. کسانیکه دیروز در برابر این ملت می جنگیدند امروز از عمده ترین افرادی هستند که حافظ و حامی منافع ملی در کشور خود را خطاب میکنند.

اشخاص دیگری هم هستند که دیروز همه در پست های کلیدی مملکت اجرای وظیفه مینمودند زمانیکه بنابر لزوم دیدها و عوامل مختلف اجتماعی و سیاسی از وظایف شان به کنج عزلت نشستند و در زمان تصدی وظیفه از موقف و برحق بودن نظام دفاع میکردند امروز آنها هم با جرئت تشکل نموده، هوایی ریاست جمهوری را به سر میپرورانند.

مردمانی دیگری هم هستند که با لباس های سبک غرب و دیدگاه های که در غرب به آن آشنایی داشته و عمری را با کلتور اجانب زندگی نموده اند با وضعیت و حالات مملکت ناآشنا اند. آنها هم به نوبهٔ خود مجریان امور را با حرفهای تند و تیز و اصطلاحات جدید مورد سرزنش قرار میدهند. از تفص حقوق زنان، حقوق بشر و جامعه مدنی بدفاع برمی خیزند. رسانه های صوتی و تصویری بخاطر خبرسازی، چند نفر محدود را از تمام کشور انتخاب نمودند و هر شب آنها را در گفتمان ها و یا بنام های تودی خبری، کنکاش وغیره دعوت می نمایند.

حکومت را بالای مردم و مردم را در مقابل حکومت قرار میدهند، گاهی حکومت را با تمام کارها و اجراآت آن و حتی رئیس جمهور را نکوهش و سرزنش میکنند. حتی گپ بجایی میکشد که به توهین و تهدید آن صدا میکشند، بعضی ها مجاهدین را از عقب تلویزیون ها میکوبند، گاهی نماینده گان ملت ظاهر می شوند، بحث های مختلف را به ارتباط زبان و سمت بلند میکنند. اصطلاحات جدیده را میخواهند در عوض اصطلاحات قدیمه استعمال نمایند، موضوع پوهنتون دانشگاه بحث را به آنجا می کشاند که مستقیماً بالای یک قوم تعرض لفظی صورت می گیرد، قانون سازی، حاکمیت قانون و نظارت بر اعمال حکومت جای خود را در پارلمان به موج از تنش ها و مخالفت های لسانی و منطقوی باز نموده است.

زمانی هم نخبه گان و سیاسیون در مشارکت هم قانون انتخابات و قانون تشکیل صلاحیت های انتخاباتی را به نقد میگیرند و دولت را به تخطی از قانون متهم میسازند. مسوده قانون انتخابات را ترتیب مینمایند و در آن از کمیته گزینش نام میبرند، تا کمیته بتواند افراد شایسته را در پست های اساس کمیسیون انتخابات بگمارد، خود تحلیل میکنند و خود پیشنهاد مینمایند و دست آویزی برای حکومت میدهند.

زمانیکه حکومت افراد را بخاطر کمیته گزینش انتخاب مینمایند و کمیته منتخبه افراد دیگری از جمع نامزدان به رئیس جمهور پیشنهاد مینمایند، صدایی مخالفت بلند می شود در حالیکه خود این همه کاران برای دولت مشروعیت میدهند، بعداً به مخالفت می خیزند. از جانب همسایگان و خارجی ها سال ۲۰۱۴ را عنوان میکنند، گاهی از خروج سربازان شان صحبت مینمایند، گاهی موجودیت سربازان را در نبرد با طالبان ضروری میدانند. زمانی از کمک های اقتصادی صحبت مینمایند، و باری از فساد اداری در مملکت بحث میکنند، و کمک ها را مشروط به مبارزه علیه فساد اداری میخوانند. و هم وقتی از بیرون کشیدن تجهیزات جنگی و تخریب پایگاه های نظامی صحبت میکنند و پیوسته موضوع پیمان امنیتی را تاکید می کنند. از دو سال به اینطرف صدها بار از طرف آنها خروج کامل سربازان ایشان اعلان میگردد، گاهی میگویند که تعداد محدودی از آنها در افغانستان باقی میمانند و از طرف رئیس جمهور امریکا اعلان میگردد، در حالیکه تا حال دانسته نشد و اعلان هم نشد که چه تعداد باقی خواهد ماند؟!

ارتش ۳۵۰ هزار نفری افغانی که نیاز مبرم بخاطر مقابله با دشمن به نیروهای هوایی و قوت های قوی زمینی دارد، دایماً از کشورهای خارجی تقاضا مینمایند تا ارتش افغانی را با تجهیزات و وسایل مدرن هوایی و زمینی اکمال نمایند، وعده های مختلف داده می شود و این وعده ها گاه و بیگاه تغییر فاحش می یابد.

عملیات و جنگ در کشور ادامه دارد، هر روز هموطنان ما کشته و یا زخمی می شوند، خانواده ها دسته جمعی به اثر اصابت ماین ها از بین میروند، انتحار و انفجار مردم را نسبت به آینده مأیوس نموده هر روز صدها دوست، برادر و هموطن ما قربانی این جنگ تحمیلی و رویایی اقتدار طلبی ها بخاطر احراز قدرت، تکیه زدن بر مسند قدرت و دست یابی به امکانات طبیعی این سرزمین می شوند. دولت، حکومت و رعیت همه نگران از این وضع رقت بار اند، هر روز مردم ما را مشکلات اقتصادی و فقر روز افزون تهدید می نماید، بیکاری به حد اعلی آن رسیده است، خشکسالی مداوم زراعت ما که یگانه عامل اقتصادی و معیشتی مردم را تشکیل میدهد عقیم ساخته و زمین های زراعتی، اشجار مثمر و مواشی کاملاً یا از بین رفته اند و یا در حالت انهدام کامل اند. در چنین وضع اسف بار نباید به خاطر منافع شخصی، گروهی، سمتی، منافع ملی را زیر پا بگذاریم و مردم خود را که ۹۷ فیصد آن بی سواد اند به پرتگاه نیستی بکشانیم، گروه، سمت و زبان خود را نسبت به دیگران ترجیع بدهیم. ضرور است که با وحدت، آشتی، برادری و گفتمان ملی در فضای اسلامی انتخابات شفاف، عادلانه و سراسری را که عاری از تقلب و تخلف باشد براه بیندازیم. محتاطانه و مدبرانه در مورد آینده مملکت بیندیشیم. خدا را حاضر بگیریم و ملت رنجدیده خود را از یاد نبریم، دست اجانب و توطئه های داخلی و خارجی را خنثی و یک حکومت فراگیر و انتخابی را انتخاب نمائیم، تا باشد که روزنه های امید برای نسل های آینده ما بیشتر باز شده و ما محکوم تاریخ نشویم.

محمد خليل

مشران دې دا آخري چانس له لاسه نه ورکوي

په ۱۳۹۳ کال د حمل په میاشت کې د افغانستان راتلونکی جمهور رئیس لپاره ټاکنې ترسره کېږي، څرنګه چې په افغانستان کې ګڼ ګوندونه شتون لري نو لیرې نه ده چې جمهوري ریاست لپاره څو کاندیدان مخې ته راشي. په دغو سیالیو کې به ډیری سختې سیالۍ هم وشي او بې خرته مصارف هم، مګر داسې جمهور رئیس به رامنځ ته شي چې د ښاغلي کرزی په څېر کمزورې بې اجرا ته او د ډېرو څواکمنو ډلو ټپلو په محاصره کې بې واکه وي. افغانستان به یو ځل بیا د فساد او نورو ډېرو ناخوالو کوروي، مافیا، غاصبین، کمیشن کاران او زورواکان به پراخ مټ ګرځي او د افغانستان د جرړو په ویستلو کې به نور هم ګړندي کېږي.

که لږ غونډې هم د خپل هېواد حالت ته ځیر شو نو په دې واقعیت به اعتراف وکړو چې که افغانستان څو کاله نور هم همداسې پاتې شي لکه څنګه چې اوس دی نو پخپل لاس به مو د غلامۍ واکې د دښمنانو په لاسو کې ورکړې وي.

له څه شک پرته له هر څه وړاندې د افغانستان سیاسي مشران په ځانګړې ډول اسلامي ګوندونه له بل هر چا زیات مسؤولیت لري چې د حالاتو او شرایطو ته په پام سره پر یو واحد کاندید راټول شي او نور ټول دهغه تر شا ودرېږي. په دې کې هېڅ شک نشته چې دغه واحد کاندید به د ولس د مطلق اکثریت په رایو د اقتدار مسند ته رسېږي او د یو مضبوط ولسمشر په توګه به د اقتدار پر ګدۍ تکیه کوي. هېواد ته به له اوسنی انارشیزم، فساد، درغلۍ او ضعف له ډوبې کښتۍ نه خلاصون ورکوي.

اسلامي ګوندونه دې دا واقعیت درک کړي چې یونیم ملیون افغانانو دهغوی په مشرۍ او دهغوی په غوښتنه د یو اسلامي او آزاد افغانستان په موخه خپلې ککرې نذرانه کړي دي، دا دهغوی د قربانیو ثمره وه چې نړیوال شهرت یې ترلاسه کړ او د یو آزاد افغانستان په خاوره کې یې قدمونه کېښودل، که د افغانستان مسلمان او غیرتي ولس قرباني نه وای ورکړی خدای خبر چې چېرته به یې د ګمنامي ژوند تیراو، دوی ته نه ښئ چې له خپل غیرتي ولس سره جفا وکړي او دهغوی پر قربانیو پښې کېږدي، که څه هم د افغانستان مجاهد ولس له خپلو مشرانو څخه تل د یووالي او اتفاق غوښتنه کړې خو په اوسنیو شرایطو کې یوځل بیا په جدي ډول غوښتنه کوي چې د خدای په خاطر نور د افغانستان د مجاهد ولس قرباني او شهادتونه را مو په سیند مه لاهو کوئ، د اسلام دښمنو ملحدینو او سیکولرانو تند او تیز پیغور ته یې مه پرېږدئ، له همدا اوس نه خپل اسلامي افغاني او اخلاقي مسؤولیت ته متوجه شئ، ګډه ناسته او ګډه مجلسونه جوړ کړئ د افغانستان د راتلونکی ښه سرنوشت لپاره سره راجرګه شئ او د ځان ځانۍ پرځای په یو واحد کاندید باندې راغونډ شئ، خپلې رأی پخپل لاس مه تیت پرک کوئ، د اسلام دښمنانو ته چې د مسلمانانو په سر له لوبې او تجارت کولو پرته بل هیڅ ارمان نه لري میدان مه خالي کوئ، ستاسې تر شا اوس هم په ملیونو مسلمانان ولاړ دي. تر ټولو زیات د خلکو ملاتړ له تاسو سره دی. تاسې د یو واحد کاندید او منظم اتفاق له لارې اوس هم ددې څواک لرئ چې په افغانستان کې یو با ثباته او مستحکم حکومت په پښو ودروئ، د امن او امان ماحول برابر کړئ. خپل ولس ته هوسا ژوند او ښه اقتصاد برابر کړئ، ګران هېواد افغانستان د دښمنانو له تاړاکونو او ناولو اهدافو څخه وساتئ. خپل هېواد پخپلو پښو ودروئ، له نړی سره په هسکه غاړه خبرې وکړئ. د ژوند په ټولو ډګرونو کې په زړه پورې پرمختګ وکړئ او خپل هېواد د ترقۍ معراج ته ورسوئ.

زموږ یواځینی ضعف خپلمنځې کرکه او بې اتفاقي ده، دښمن یوازې او یوازې زموږ له همدې ضعف نه کار اخلي، تر څو پورې مو چې خپل دا ضعف نه وي ختم کړي او د اتفاق په ټغر نه یو راغونډ شوي د دښمن په راغوړول شویو لومو کې به همداسې راګیر یو او کله به هم د بري مخ نه شو لیدلې.

په یاد ولرئ وخت د چا انتظار نه کوي او په تیزۍ سره تېرېږي، تللې وخت بیا لپاره په لاس نه راځي، هوښیاران هغه دي چې له مساعد وخت نه ګټه پورته کړي او یوه پوټې هم غفلت ونه کړي.

که تاسې دا آخري چانس هم له لاسه ورکړ او د افغانستان د ملیونو شهیدانو د وارثینو او مجاهدینو زوړ ارمان مو پوره نه کړ نو ضرور به له یو سپکوونکی سرنوشت سره اخته شئ چې بیا به د لاسونو له مروړلو پرته بل هیڅ نشئ کولای.

ازمه خوبش آمده، نه ګم شو از مه خیلی مقبول است !!

حبیب الرحمن ابراهیمي - ibrahimi.jornalist@gmail.com

اوس خو کابل کې ولسواکي، دیموکراسي، آزادي او بلاخره ګډوډي حاکمه ده هرڅوک چې هرڅه کوي هغه کولای شي ترسره کوي یې، دخمکو غصب عادي مسئله ده، دسوداګریزو کاریاریانو دېیسو خوړل اوخېته پرې اچول، دخلکو دقرضونونه ورکول اویا هم یوه اوبله بهانه کول، چل فریب اوډول ډول نیرنګونه خو پرېږده شرمیږي چې یادوي یې دموټروپلورونکیو کاریاریانو سره خبره نه شي کولای دعمده مالونو له کاریاریانوسره خبره نه شي کولای ددو کانداراتو سره په همدې شکل هغه کسان چې بایې دځمکې پرسردوسیه په حکومت کې بنده اویاهم بله کومه دعوه لری هغوی جیبونه خو نش او شکایت کوي اوهېڅوک یې شکایت نه اوری اکثریت خلک له خپل روزګاره لاس په سر اوخفه ښکاری ته به وایې پرېوزو یې چا لاس نیولی او دمه یې دبنده ده، ډیر کم خلک شته چې لږ قدرت لری اویا دیوه زور خپلوان دی یا رابطې ورسره لری اویاهم دهغوی له زوره برخمن دی خودانور بیا لاس ترزنې پراته بیچاره ګان دي ظاهراً خو داسې ښیان وینې چې ته به فکر کوي چې دافغانستان اسلامي جمهوریت، داساسی قانون دریمه ماده په افغانستان کې هیڅ داسې نظام نه شي راتلای چې دا اسلام داصولو خلاف وي، ددیني علماو شورا چې په هرو دوواوونیو کې یوځل ولسمشر ته په شرعي چاروکې مشورې ورکوي دهغوی اعلامیې اوناستې که وګورې نوفکر به وکړې چې سوچه اسلام حاکم او هیڅ ستونزه نشته دغه راز ددې ترڅنګ نور داسې لوی لوی مرکزونه او لوی لوی ارګانونه شته دي چې داسلام دمقدس دین په رڼاکې ددیني مقدساتو ساتنه څارنه اوبیل آخره دعوت اوتبلیغ کوي خو که دې بل اړخ ته یې که لږ توجه وکړو چې ددې ترڅنګ یې خومره آزادي ورکړې خوانانو، ښځو اوهغه کسانو ته چې په ډیموکراسی عقیده لري اود ډیموکراسی او آزادی نه په استفادې سره خپلې میلې اوچرچې کوي ښه زه مفتي یم، نه کوم قدرت مند یم، اونه هم بل داسې څوک یم چې داسې څه کول مې آرزو وي چې ددښمن دژړندې خوله پرې ؤکه کړم، صرف داچې په اسلامي ټولنه کې پیداشوې او بیل آخره په همدې اسلام باندې کلکه عقیده لرم چې دا به تل ترتله راسره مله وی.

په ښار یادولتي ادارو اویاهم عصري مارکیټونوته چې ځې نه اقلاً که همدې افغاني اسلامي او آن انساني ارزښتونوته متوجه شې ډیرې ستونزې وینې اوبیل آخره پرې دردیږې لیکوال دمره کولای شي چې دکاغذ پرمخ یې دچارواکو اوحاکمانوغوږونوته ورسوي اولیکوال هیڅ کله داجرایوي قدرت لرونکې نه دي اونه باید ددې تمه ترې وشي خو په خپل وار مې دیو داسې انسان په توګه چې په ټولنه کې مې خپل رسالت اداکړي وي دیوې دردوونکې حادثې یادونه په خورا لنډیز درته کوم، سهار له کوره تردفتره لاړم چې کمپیوټر مې خلاص کړ اولمړی دمعمول سره سم خپل ایمیل مې وکوت اویه هغه اعلامیه مې سترګې ولګیدلې چې دژورنالیستانو داتحادیې له لارې رالیږل شوې وه اوپه کې لیکلې ؤ چې دوسنیو دمرکز په تالار کې خبرې غونډه ده زه هم په بیړه ورغلم چې کله دیوهني وزارت مخ اویاهم دګلبهار سیټي ستر ته ورسیدم اوپه ډیره بیړه پلې لاړ ته مې خان برابر کړ او هلته له ګلبهار سټي سنټر نه پنځه نجونې چې اروپایي ډوله جامې یې پرتن او دبدن هرغړی یې له ورایه بربنیده اوبیوې اوبلې ته یې ویل چې ((از مه خوبش آمده، هغې بلې ورته ویل ؟ نه ګم شو از مه خوبش آمده و زیاد مقبول است ؟؟)) ما چې کله ورته وکتل حیا مې راغله او سرمې وځوځاوه چې ګورم هرې یوې خپل ښې مټ راتاو کړی او په ښي مټ باندې یوې دلړم تصویر په ښتنه وهلی او بلې دغوندل تصویر لګولی بلې د مار تصویر او دوه نورو ته متوجه نه شولم خو یوې ته یې وویل ! چند ګرفت از شما؟ دې ورته وویل ! صدې دالر که دادم دیګر چیزي نه داد؟ هغې بلې ورته ویل چې خداجان از من خو ۴۰۰۰ افغانی ګرفت نو ښي مې سپکې کړلې او دا د موټرو تم ځای هم دی نو خلکو له یوې او بلې خوا سترګې پرې رااېستلې وې او ورمیږونو یې له نوي درجې زاویې نه کمې وې او ددوی ننداره یې کوله چا سربښوراوه اوچاهم دنظام چارواکونه سپک او رد ویل ما به هم له ځان سره یوځه ویلې وي چې دادې په دې حساسو شرایطو کې دې ته اړشوم چې داخبار لپاره یوڅه ولیکلم اودخلکو او چارواکو تر غوږونو یې ورسوم.

غواړم ترڅو دمنکراتو پروړاندې داسې مبارزه وکړم چې له خدای جل جلاله پرته یې له بل چانه دبدلې توقع نه لرم. که چېرې په همدې شکل اوبه همدې توګه دغه آزادي وي همداسې هرچاته دهرڅه کولو اجازه وي نو بیا زموږ دا اسلامي ښتونه اوهغه ارګانونه چې په دې برخه کې مسول دي لکه څارنوالي، جنایي، امنیت اوهغه نور کشفي ارګانونه دهغوی ټولو فعالیت اودهغوی کار تر پوښتنې اوکرویږنې لاندې دې چې ولې په دمره کچه آزادي ور کړل شي اودا خو دیو سیل په معنی دي اودا په ټلویزیونونو کې د بدرنګو برنامو دلیډ لو پیلامه ده اودابه زموږ ترکلیو اوبانډو رسیږی اوبیل آخره په ټولنه کې به خوریږي زه لمړی په دې برخه کې داسلام دسترپیغمبر حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) حدیث ته اشاره کول غواړم چې فرمایلي یې دي: "لعنت دخدا جل جلاله د پر هغه چا وي څوک چې چا باندې خالونه ږدي اوهغه څوک چې پرځان یې ږدي یا یې وهي."

هیله مې داده چې که چارواکي اوحاکمان خلک ښو کارونوته دعوت اوپه جدي توګه له بدو منع نه کړي نو فکر کوم داستونزه به ترامینیتي ستونزې اوپه ټولنه کې داداري فساد نه لویه غمیزه راپورته کړي چې بیا یې دمخنیوي لپاره یادېرو هلو ځلو ته اړتیا وی او بیا به ددې مخه په آسانه توګه څوک ونه شي نیولای.

په پای ددغه شان نجونو په والدینو وروڼو پلارونو اونورو دوستانو غږ کوم چې خپل نازولې ژامن اولورګانې پرې نږدي چې دپردیو دسرپالونو څخه بدرنګ دودونه چې داسلام سره په ټکر کې دي پرخان عملې کړي بله غوښتنې مې اړوندو ارګانونو څخه داده چې ددغه شان منکراتو پروړاندې دجدي عکس العمل وښیې اوپرې نه ږدي ترڅو خلک دومره آزادي خپله کړي چې له واکه اواختیاره یې وتلې وي.

دداسې یوې ورځې په هیله چې خویندې مود اسلامي حجاب مطابق ښوونځیو، پوهنتونونو، بازارونو، شفاخانو، تعلیمي موسسو اودسوداګریزو تو کیو اوکاربار ځایونو ته لاړې اودخپلو دارتیاوړ چارو پرمخ بیولو کې برخه والي.

شهادت (اونیزه)

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

بګرام زندان، دویمه ګوانتنامو

د امریکا چاپ واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپله یوه تحلیلي لیکنه کې د بګرام زندان په افغانستان کې دویمه ګوانتنامو بللې او لیکي:
په داسې حال کې چې امریکا په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر کموي، یوه له عمده ستونزو چې ورسره مخامخ ده، د بګرام زندان ترل دی، چې په دویمه ګوانتنامو مشهوره دی.
ورځپاڼې لیکلي،
لا هم ۶۷ تنه غیر افغاني بندیان د امریکا په رهبرۍ په دې زندان کې دي، چې ځینې یې د القاعده شبکې سرسخت غړي دي، چې پر امریکا د سپټمبر د یوولسمې تر بریدونو وروسته د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې نیول شوي او اوس هم د بګرام په زندان کې ساتل کېږي.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼه لیکي:
د بګرام زندان په تړلو کې امریکا له هغو ستونزو سره مخامخ ده چې د ګوانتنامو زندان د تړلو په برخه کې ورسره مخ ده.
ځینې امریکایي چارواکي وايي، د بګرام زندان تړل عاجل دي او بنايي زیاتې ستونزې ولري. د امریکا حکومت د افغان زندانیانو د اداري مشرۍ سر کال افغان حکومت ته وسپاره. خو د بهرنیو زندانیانو برخلیک د دې زندان د تړلو په وړاندې یو لوی خنډ ګڼل کېږي.
په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جوزیف ډنفورډ واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته ویلي، د بګرام زندان د تړلو هیله شته، خو پلان نه.
ورځپاڼه د تحلیل په دوام زیاتوي، په داسې حال کې چې امریکا راتلونکی کال په افغانستان کې خپله دوولس کلنه جګړه پایته رسوي، د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونه لا نه دي توانېدلي، د دې زندان د بندیانو محاکمې یا هم د هغوی خپلو هېوادونو ته د دوی د سپارلو لپاره کومه ستراتیژي برابره کړي.
بله دا چې په بګرام زندان کې د بهرنیو بندیانو شمېر په زیاتېدو دی، ځکه لا هم د افغان او امریکایي خاصو ځواکونو په ګډو عملیاتو کې بهرني جنګیالي نیول کېږي.
تېره میاشت هم یوه ډله نوي بندیان د بګرام زندان ته ولېږل شول. د دې زندان یو بشدي هم په رسمي ډول نه دی محاکمه شوی.
پوځي هیئت تر ځېړنو وروسته ځینو بندیانو ته له زندان څخه د ازادۍ سفارش ورکړی، خو د دوی زیات شمېر خوشې شوي نه دي.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لیکلي، ځرنګه چې د بګرام زندان په افغانستان کې دننه دی، امریکایي قواوې مجبوره دي، کله چې یې په ۲۰۱۴م کال کې جنګي نقش پایته ورسېږي، دغه زندان وتړي.
خو ځینې امریکایي سیاستوال او چارواکي وايي، د بګرام زندان تړل به یو لوی امنیتي خطر وي.
دوی وايي تر ټولو ښه حل لار به دا وي، چې د بهرنیو بندیانو برخه د افغان دولت تر اجازې وروسته د یوې بلې لسیزې لپاره د امریکایانو تر څارنې لاندې وي.

طالبانو سره په دوبۍ کې ...

دا شورا وايي له طالبانو سره د سولې ابتدايي خبرې روانې دي.
د افغانستان د سولې د عالي شورا ویاند شهزاده شاهد ازادي راډیو ته وویل:
"د افغانستان د ننه او بهر اړیکې شته او مخالفان نه غواړي چې دغه پټې خبرې علني شي". شهزاده شاهد بیا څرګنده کړه چې د دې هڅو هدف رسمي خبرو ته لاره هوارول دي.
د شهزاده شاهد خبرې د طالبانو یوه استازي هم تایید کړې. دغه استازي چې نه یې غوښتل نوم یې افشاء شي، په مخامخ مرکه کې اسوشیتد پریس اژانس ته وویل:
"د طالبانو مشر ملا محمد عمر له خپلو ویندویانو غوښتي دي چې دغه خبرې باید علني نه شي."
اسوشیتد پریس اژانس د طالبانو له استازیو سره د خبرو په اړه د افغانستان د سولې د عالي شورا د یل غړي حبیب اله فوزي خبرې رااخیستي دي، چې په انفرادي ډول د دې خبرو تایید کوي. فوزي چې پخوا د طالبانو د رژیم دیپلومات و، زیاتوي چې ده داسې اوریدلي دي چې د سولې د عالي شورا د غړیو او طالبانو تر منځ په عربستان هم خبرې شوي دي. د طالبانو یوه استازي د قطر په مرکز دوحه کې اسوشیتد پریس اژانس ته وویل:
"د دوی مرکه چې ملا عباس ستانکزي تېره میاشت په دوبۍ کې د سولې دعالي شورا له یوه غړي سره خبرې وکړې."
د دوبۍ په غونډه کې د اسوشیتد پریس اژانس په وینا د طالبانو استازي پر دې ټینګار کاوه چې د اسلامي امارت نوم او د طالبانو بیرغ دې نه لرې کیږي. پر دې مسالې د اختلاف له کبله په جون میاشت کې په دوحه کې د طالبانو د دفتر له پرانیستلو وروسته اختلافات رامنځته شول، چې یاد د طالبانو د فتر وتړل شو.
د دوبۍ په غونډه کې د طالبانو استازي له دې سره هم مخالفت کاوه چې د سولې عالي شورا مشر صلاح الدین رباني وي، د طالبانو استازي وویل، صلاح الدین رباني د خپل پلار له امله چې د طالبانو مخالف و، دوی ته د منلو نه دي.
بل لور ته طالبان د دوبۍ په غونډه کې له ځینو غوښتو تیر شول. د دوی استازي اسوشیتد پریس اژانس ته وویل، طالبان دې ته چمتو دي چې د افغانستان د اساسي قانون پر سر خبرې وشي او د اساسي قانون له یوازې درې مادو سره دوی مخالفت لري. دغه درې مادې دوی یادې نه کړې، چې کومې دي. خو د طالبانو استازي اعتراف وکړ چې دوی دا تیرونه کړي وه چې د خپل حکومت پر مهال یې د ښځو له تعلیم او په سیاست کې د هغوی له برخې اخیستنې سره مخالفت کړی و.
د طالبانو دغه استازي څرګنده کړه چې دوی دې ته حاضر دي چې ښځه د پارلمان غړې شي. د طالبانو استازي دا هم وویل چې دوی به د ۲۰۱۴ کال په انتخاباتو کې برخه وانخلي، خو تر هغه وروسته به په انتخاباتو کې ګډون وکړي. د طالبانو استازي وویل، د راتلونکو انتخاباتو وړونګې باید د یوه موقت حکومت مشري وکړي او یا په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته دې ژر انتخابات ترسره شي.
د طالبانو مشر ملا محمد عمر هم په یوې اعلامیې کې وویل، چې انتخابات د وخت ضایع کول دي. په دې اعلامیې کې دا هم ویل شوي دي چې طالبان د قدرت د انحصارولو په فکر کې نه دي.
د طالبانو استازي اسوشیتد پریس اژانس ته وویل، د سولې خبرې به بېرته ژر پیل شي، خو دوی پر حامد کرزي لږ اعتماد کوي. د دې استازي په وینا پاکستان له دوی غوښتي دي چې ژر خبرې شروع کړي.

امضای تفاهمنامه با ایران تنش ...

ایجاد فرصت های سرمایه گذاری در دو کشور و گسترش همکاری های دو جانبه با هند و روسیه به شمول سایر کشورهای منطقه می باشد.
اما احمد سعیدی کارشناس مسایل سیاسی، در مورد همکاری های صادقانهٔ ایران تردید دارد.
سعیدی، این تفاهمنامه را خلاف منافع ملی افغانستان و "اعلام جنگ کابل با واشنگتن" دانسته گفت که حکومت افغانستان، در امضای آن از عجله کار گرفته است.
موصوف از سویی هم افزود که بسیاری موارد این تفاهمنامه، تا کنون مبهم است و امضای این قرارداد، می تواند سوال های زیادی را در راه اعتماد بین امریکا و افغانستان و اتحادیهٔ اروپا ایجاد نماید.
موصوف گفت: "بی تردید، اسرار مکتوم قضیه از سوی امریکا و انگلیس، لحظه به لحظه پی گیری می شود و اوضاع زودتر از حد انتظار از حالت بحران به سوی تصادم، عبور می کند. اگر نیک بنگریم، فرمان مرگ نیم حاکم افغانستان در تهران، در موجی از تبسم و تعارف به امضاء رسیده است."
به باور سعیدی، جزئیات تفاهمنامه خیلی پیچیده و به شدت سری نگهداشته شده است؛ اما ایران در ظاهر تحت نام همکاری ها در صدد دنبال کردن اهداف پنهان می باشد.
امرالله صالح رییس سابق امنیت ملی افغانستان، به این تفاهمنامه از دید دیگری نگریسته است.
صالح، در تحلیل خود در مورد این تفاهمنامه، در صفحهٔ اجتماعی فیسبوک خود تحکیم روابط با همسایه ها را دارای اولویت دانسته؛ اما عملی ساختن آن را به نسبت تفاوت هایی که بین کابل و تهران وجود دارد، دشوار خوانده است.
موصوف، در مورد رزمایش های مشترک اظهار تردید نموده، و گفته است که این بند تفاهمنامه، بدون هیچ نوع تعمق مسلکی گنجانیده شده است.
موصوف افزوده است: "تمرین یا رزمایش مشترک میان نیروهایی صورت می گیرد که تعلیمات مشترک، وسایل همخوان و همشکل، فرهنگ همکاری نزدیک، خط رابط میان دو وزارت دفاع، و از دید تعریف تهدید دشمن مشترک داشته باشند."
اما به گفتهٔ وی، این وجوهات مشترک میان نیروهای نظامی و امنیتی افغانستان و ایران وجود ندارد و در عین حال، نیروهای امنیتی افغانستان اتکای استراتیژیک به ناتو دارند که خود مسئله ساز است.
احمد وحید مژده، یک تن دیگر از آگاهان مسایل سیاسی، امضای این تفاهمنامه را به سود افغانستان می داند. وی می گوید که این پیمان، می تواند در راستای حل مشکلات ترانزیتی افغانستان و مبارزه با موادمخدر، موثر واقع شود.
به باور مژده، امضای این تفاهمنامه در واقع تلاش برای همگرایی منطقوی، از سوی کابل و تهران می باشد تا بتواند در همکاری با هم، از قاچاق موادمخدر که یکی از چالش های عمدهٔ جهانی است، جلوگیری نمایند.
به گفتهٔ وی، عقد این تفاهمنامه با محتوایی که حکومت افغانستان از آن سخن گفته است، بر روابط کابل و واشنگتن اثرگذار نخواهد بود.

پنتاگون ۷۷۲ میلیون دالر را در ...

گزارش این بازرسي به نگراني هاي متعددي اشاره مي كند از جمله اينكه افغانستان تنها يك چهارم پرسونل لازم براي استفاده و نگهداري اين لوازم هوايي را دارد و تنها چند پيلوت افغان وجود دارند كه اجازه لازم براي پرواز در شب را دارند.
ديگر اينكه وزراي دفاع و داخله افغانستان نمي توانند به توافقي بر سر كنترول و اداره اين نيروي نظامي داشته باشند.
اين گزارش از اردوي امريكا مي خواهد تا زماني كه وزراي افغانستان به يك توافقي نرسيده اند، قراردادهاي مذكور را به حالت تعليق درآورد و مسئولان امريكايي نيز برنامه هاي دقيق تر و منطقي تري براي تجهيز لوازم هوايي افغانستان در نظر بگيرند.

هند له افغانستان سره سل میلونه ...

هند له افغانستان سره پداسې حال کې د ۱۰۰ میلونه ډالرو د مرستې اعلان کوي چې یواځې درې ورځې وړاندې په ننګرهار کې د دغه هېواد پر قونسلګرۍ ډله ییز ځانمرګی بریدونه وشول چې یکې د قونسلګرۍ کارکوونکو ته زیان نه دی رسیدلی خو نهه افغان ماشومان یې ووژل تر شلو زیات ملکیان یکې ټپیان شول.
له برید وروسته افغان او هندي چارواکو وویل چې دا ډول بریدونه به له افغانستان سره د هندو پر اړیکو او مرستو بده اغیزه ونکړي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ...

چېرته چې د هندوستان کونسلګرۍ موقعیت لري او د برید موخه هم دغه کونسلګري وه، خو په شل متری کې یې د ځانمرګي برید کوونکي موټر کې چاودنه شوې وه، چې له امله یې په یو جومات کې ناست دیو شمېر ماشومانو په ګډون ۹ عام وګړي ووژل شول او تر ۲۲ پورې نور ټپیان شوي وو.
د ملګرو ملتونو دامنیت شورا یاد برید وغانده او ددې برید د ترسره کوونکو د محاکمې غوښتنه یې وکړه. په ملګرو ملتونو کې دارجنتاین استازې ماریا کریستینا، چې د امنیت شورا دوره یې ریسه ده، تر بروټې غونډې وروسته خبریالانو ته وویل، چې دوی یاده چاودنه په کلکه غندي.
هغې له ټولو هېوادونو غوښتي، هغه کسان او ډلې چې د ترهګرو ملاتړ کوي، امکانات او مالي ملاتړ ورته پیدا کوي، یا محکمې ته راکاږي.
د نوموړې په وینا، د امنیت شورا ۱۵ غړو هېوادونو نه یواځې دا برید غندلی، بلکې ددې پېښې د قربانیانو له کورنیو سره یې غمرازي او خواشیني هم څرګنده کړې ده.

امریکا په لنډ مهاله توګه په ځینو...

احتیاط له مخې د منځني ختیځ او شمالي افریقا په ځینو هېوادونو کې خپل سفارتونه وتړل.
لویدیځ خبري اژانسونه راپور ورکوي چې؛ د القاعده شبکې د مشر د پیغامونو اوریدل د دې سبب شوي چې؛ امریکا متحده ایالاتو او اروپایي هېوادونو په شمالي افریقا، منځني ختیځ او نورو هېوادونو کې په لنډ مهاله توګه خپل سفارتونه تړلي دي. تازه راپورونه وايي، متحد ایالاتو، په یمن کې خپلو ټولو غیري ضروري کارکونکي او امریکایي اتباعو ته ویلي چې؛ سمدستي دې له دغه هېواده ووځي.
د امریکا د استازو په جرګې کې د کورني امنیت د کمیټې مشر میچل میک کویل د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر د یوولسمې نېټې له بریدونو را وروسته دا استخباراتي معلومات تر ټولو باوري او مشخص معلومات بللي دي.
د متحد ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت ویاندې مرستیاله ماري هارف په ځینو هېوادونو کې د امریکا د سفارتونو تړلو ته په اشارې دغه اقدامات احتیاطي بللي دي: "په مجموع کې موږ چې کوم څه تر سره کوو هغه احتیاطي اقدامات دي چې د خلکو، زمونږ د تاسیساتو او د هغو کسانو لپاره چې په بهر کې دې خایونو ته راځي د هغوی د ساتلو دپاره یې د ډېر احتیاط له مخې تر سره کوو."
راپورونه وايي، اوریدل شوي پیغامونه د القاعده د مشر ایمن الظواهري له خوا په یمن کې خپل مرستیال ته لیږل شوي چې د مهمو ترورېستي بریدونو د پلانونو په اړه دي.
د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ویاندي ټیرماښام په دې اړه خبریالانو ته د خبرو په مهال ددې معلوماتو یوه برخه تایید کړ؛
"د دې تهدیدونو سرچینه د عربو په ټاپو وزمې کې ده. څرګنده ده چې د عربو په ټاپو وزمه کې القاعده په هغه ځای کې تر ټولو فعال ترهګر سازمان دی او دا د القاعدې له مرکزي هستې پورې اړوند تر ټولو فعاله عملیاتي ډله ده خو دا چې ددې تهدیدو تر شاه په څوک کېدای شي وي تر دې اخوا زه د استخباراتي معلوماتو جزییاتو ته نه ځم."
د راپورونو له مخې د الظواهري لومړی پیغام په یمن کې دده مرستیال ناصر الوهایشي ته څو اونۍ مخکې رسیدلی وو.
سکیي چیلیس چې د متحد ایالاتو په سنا کې د استخباراتو د کمېټې مرستیال دی وايي؛ اوریدل شوي پیغامونه د ترهګرو تر منځ د اړیکو د ځرنګوالي سطح ښیي چې مونږ د سپټمبر د یوولسمې د پېښې لا دمخه موږ لیدلي وو، چې څه ډول ترهګرو یو تر بله اړیکه نیوله هماغسې ورته والی په دې اړیکو کې هم لیدل کیږي.
چمبلیس په دې ارتباط د متحد ایالاتو د ملي امنیت د هغه پروګرام ستاینه وکړه چې د موبایل ټیلفونونو او بریښنا لیکونو له لارې یې پیغامونه څارلي او له استخباراتي ادارو سره یې مرسته کړې او هغوی یې له خطرونو څخه باخبره وساتل.
د مکالمو د څار پروګرام له هغه مهاله چې د امریکا د استخباراتو پخواني قراردادي ادوارد سنوډن په کورني او نړیواله سطح د امریکا د څارنې د پروګرام په اړه معلومات افشا کړل تر څارنې لاندې دی. چارواکو په ځانګړې توګه ددې تهدیدونو په اړه څه نه دې ویلي چې څنګه به وي او یو شمېرو ویلی چې مشخص هدف نه دی څرګند.
د همدې استخباراتي معلوماتو په اساس د امریکا متحدو ایالاتو د شمالي افریقا او منځني ختیځ په پنځه ویشت هېوادونو کې خپل سفارتونه وتړل.
بریتانیا، فرانسې، جرمني او ناروې هم په یو شمېر هېوادونو کې خپل سفارتونه تړلي دي. تاکل شوې ده چې په دې ادارو کې د کار بندیدل به د روژې د میاشتې تر پای پورې دوام وکړي.

لوی درستیزان روسیه و پاکستان ...

در این خبر نامه آمده است که در دیدار میان این دو مقام نظامی بر علاوه اینکه روی بهبود روابط دو کشور گفتگو صورت گرفته همچنان بالای مسایل منطقوی و افغانستان که قرار است نیرو های خارجی در ۲۰۱۴ میلادی این کشور را ترک کنند بحث و گفتگو نموده اند.
خبر نامه اضافه می کند که هر دو مقام نظامی حمایت شانرا از پروسه صلح افغانستان اعلان نموده و صلح در افغانستان را به نفع منطقه خوانده اند. در خبر نامه آمده است که ماسکو و اسلام آباد هر دو به این باور اند که باقی ماندن نیرو های خارجی در افغانستان پس از ۲۰۱۴ میلادی می تواند باعث خانه جنگی در آنجا شده و بالای اوضاع منطقه نیز تاثیرات منفی از خود بجا گذارد.
به قول از خبر نامه نشر شده جنرال کیانی و ولادیمیر وی چیرکین به این باور اند که ایالات متحده امریکا باید یک پالیسی واضح در قبال افغانستان داشته باشد و در مسایل افغانستان نقش همسایه هایش را فراموش نکند.
سفر لوی درستیز روسیه به پاکستان در حالی صورت گرفته که هفته گذشته جان کیری وزیر خارجه امریکا در سفر دو روزه که به اسلام آباد داشت از باقی ماندن نیرو های خارجی پس از ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان خبر داد.
روسیه و پاکستان که قبلاً چندان روابط نیک با هم نداشتند در این اواخر نزدیک شده و مقام های هر دو کشور برای بهبود روابط دو جانبه سعی می کنند.
لوی درستیز اردوی پاکستان سال گذشته به مسکو سفر نموده و سفر اش را نخستین گام بسوی بهبود روابط هر دو کشور نام داد و ابراز امیدواری کرد که روابط نیک میان اسلام آباد و مسکو تاثیر مثبت بالای اوضاع منطقه داشته باشد.